مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۱/۱۷

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسل و دریمه برخه

دوې بلا یو ځای سره راغلې
یو خوا ده لوړه، بل خوا یخ خوله اچوینه

نن مې د یار د راتلو غږ دی
کارونه خلاص شول، اوس به سم کړم خپل برېتونه

زما سلام په جانان وایه
د مفلسی مې ورته مه وایه حالونه

ملا پیسې مې ببرته راکړه!
ستا په تعویذ جانان خولګی نه راکوینه

د لنډیو په باب په بېلابېلو وختونو کې ګڼو خلکو خپل نظریات او اندونه لیکلي دي او له لنډیو څخه یې خپلې اخیستنې له نورو سره شریکې کړې دي. په دې برخه کې د ښاغلي ښوونیار رحمت الله مبین له مقالې څخه د لنډیو په باب د ده د نظر یوه برخه رااخلم:

«... لنډۍ د پښتو اب بېساري شتمنه برخه ده، چې بله هیڅ ژبه او ادب دا ډول ادبي پانګه نه لري. د پښتو لنډیو شمېر میلیونونو ته رسېږي یا که ووایو په نړۍ کې د پښتنو تر شمېر به د پښتو لنډیو شمېر په دې زیات وي، چې هر پښتون لنډۍ پېژني، ویلې یې دي او تر دوو زیاتې لنډۍ به هرو مرو په ذهن کې لري. ځینو لیکوالانو لنډۍ په خپله هم لیکلې دي، خو د ولسي لنډیو او دېواني لنډیو ترمنځ رواني او ژبني توپیرونه له ورایه ښکاري.

د ټولو پښتو لنډیو را ټولول ناشونی کار دی، خو بیا هم ډېرو لیکوالانو هڅې کړې دي«په دې برخه کې تر ټولو پخوانی کار د هندوستان د یوه نواب محمد ارتضا خان دی. ده د ۱۲۲۵هـ ق کال شاوخوا په خپل فرهنګ ارتضایي نومي کتاب کې، ځینې پښتو لنډۍ ثبت کړې دي.

ډار مستټر په ختیځ پوهانو کې د لنډیو د ثبت کار کړی دی او په افغانستان کې مرحوم نوري، مرحوم استاد بېنوا، ارواښاد محمد دین ژواک، په وروستیو کې ښاغلي عبدلکریم پتنګ، اروا ښاد مصطفی جهاد او د پښتو ټولنې د فولکلور څانګې دغه ډول لنډۍ را ټولې کړې دي، د لنډیو په ځانګړو مجموعو او یا د فولکلور د نورو مجموعو په ترڅ کې یې چاپ کړې دي.

په بلوچستان کې ښاغلي ګل محمد کاکړ د(ګل تپې) په نامه د پښتو لنډیو څلور مجموعې چاپ کړې دي او په پېښور کې پښتو اکېډمي د(روهي سندرې) په نامه د لنډیو دوې ښې مجموعې چاپ کړې دي...»

دا هم د دې برخې له پاره څو نوې لنډۍ:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوې بلا یو ځای سره راغلې
یو خوا ده لوړه، بل خوا یخ خوله اچوینه

چې د راتلو دې اوازې شوې
له خندا شنه شومه، په ځان نه پوهېدمه

نن مې د یار د راتلو غږ دی
کارونه خلاص شول، اوس به سم کړم خپل برېتونه

نن د هغې د راتلو غږ دی
نور خو راسم شوم، اوس به جوړ کړم خپل برېتونه

زما سلام په جانان وایه
د مفلسۍ مې ورته مه وایه حالونه

زما سلام په جانان وایه
د ناچارۍ مې ورته مه وایه حالونه

دا مې پخپله په ځان کړې
لکه د پړې ول په ول خورمه تاوونه

له بېوسۍ مې درته شا کړه
نه بې وفا یم نه په زړه کافره یمه

له موبایل دې سر کړه پورته
ستا د فېسبوک له لایکو ډېر دې زما خالونه

ما درته وېل نه دې منله
د کونډې زویه اوس وهه د چول مزلونه

تسلي مهٔ راکوه یارهٔ
لاسونه راکړه سمندر مې ډوبوینه

د ققنس چارې په ما وشوې
په میرو ډکې ټولوم ځان پرې سبزمه

کور دې نږدې، دیدن دې لرې
د کوه قاف تر غرو دې جګ دې دیوالونه

ملا پیسې مې بېرته راکړه!
ستا په تعویذ جانان خولګۍ نه راکوینه

که مناسبه درته ښکارې
په مخ څېپړې راکوه، ولاړه یمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ